**بسم الله الرحمن الرحیم**

**په تاجکستان کې د اسلامي ويښتيا بله بېلګه**




**(ژباړه)**

**خبر:**

د تاجکستان د سرشمېرنې دفتر د معلوماتو له مخې، په ۲۰۱۸م کال کې د دغه هېواد پر ډېرى زېږېدلو ماشومانو باندې اسلامي نومونه اېښودل شوي. تېر کال هم؛ ادريس، عمران، محمد، ابوبکر، عمر، عبدالله او يوسف نومونه تر نورو ډېر اېښودل شوي وو. همداراز په دغه کال کې د نجونو تر ټولو محبوب نومونه عربي او عبراني وو؛ لکه: مريم، آمنه، عايشه، آسيه، حنيفه، فاطمه او حبيبه. دغه خبر د ۲۰۱۹م کال د فبرورۍ په ۱۲مه په «آسيا پلس» معلوماتي آژانس کې خپور شوی.

ياد اژانس همداراز له تاجيکي ليکوال او فيلسوف، منصور سروش سره مرکه کړې چې نوموړي يکې د دغو ټولو نومونو اساس او ريښه عربي بولي او وايي چې دغه نومونه له اسلام سره نېږغه اړيکه لري. منصور سروش وايي: «تر ۹۰مې لسيزې پورې د تاجکستان خلکو خوښوله چې پر خپلو ماشومانو فارسي نومونه کېږدي او له فردوسي شهنامې نه يې ورته وټاکي. سياووش، سهراب، رستم، فريدون، تهمينه، جمشيد، خورشيد، هوشنګ، کوروش، ليلي، شيرين... دا د خلکو د خوښې نومونه وو؛ خو اوس دا غوره ګڼي چې پر خپلو ماشومانو اسلامي او عربي نومونه کېږدي او دا خبره ښيي چې په تاجکستان کې د ديني متونو په لوست او ليک کې د پام وړ تحول راغلی.»

**تبصره:**

ښکاره ده چې په تاجکستان کې ننۍ اسلامي ويښتيا پر موږ د پاک خدای فضل دی، دا خبره له هغو نومونو نه ډېره واضح کېږي چې د دغې سيمې خلک يې خپلو ماشومانو ته غوره کوي. د يادونې وړ ده چې اسلام او اسلامي نومونو ته رجوع په داسې حال کې ډېره شوې چې د دغه هيواد ظالم او ديکتاتو حاکم، امام علي رحمان له اسلام سره د مبارزې او مسلمانانو د ځپلو لپاره خپله ډېره هڅه کوي.

تر ټولو مهمه دا چې رحمان په دې وروستيو کلونو کې د اسلامي ژوند د مظاهرو پر وړاندې د وحشت او ظلم سياست په مخ کې نيولی؛ پر حجاب او ږيره جريمه وضع کول، تر څلويښت کلنی مخکې حج ته نه پرېښودل، د تاجکستان له پولو بهر د اسلامي زده کړو پر کولو بنديز، په هېواد کې د ننه د ټولو ديني مدرسو او زرګونو جوماتونو تړل يې لويې بېلګې دي. د ده مخلص خدمتګاران هم په دغو وحشتونو او جناياتو کې ورسره شريک دي او پرله پسې ديني شخصيتونه ځوروي او سپکاوی يې کوي؛ همدا اوس سلګونه تنه ديني عالمان د تاجکستان په زندانونو کې په اوږدو حبسونو محکوم دي. په ورته وخت کې يې د جوماتونو رسمي امامان داسې ذليل کړي چې بايد توهين اميزه کارونه وکړي؛ کله فشار پرې راشي چې د تياتر په پروګرامونو کې ګډون وکړي؛ کله اړ ايستل کېږي چې د موسيقی د محافلو ټکټونه وپلوري او ان يوه امام د ليلين د مجسمې جوړولو لپاره د پيسو راټولولو مسوليت درلود!

پر دې سربېره، امام علي رحمان ډېره هڅه کړې چې خلک له اسلامي نومونو منع او له اسلام مخکې او د زردشتي کلتور نومونه دود کړي! همداراز، په ۲۰۱۶م کال کې د نفوس د ثبت د ادارو ډېری کارکوونکو په پېژندپاڼه کې د محمد، ابوبکر، ياسين او نورو اسلامي نومونه نه ليکل او په بدل کې يې د ماشومانو له پلرونو غوښتل چې د خپل ماشوم لپاره د «د محلي نومونو کټالوک» کتاب څخه نوم وټاکي، په دغه کتاب کې غوڅ اکثريت نومونه له اسلام مخکې دورو دي؛ خو د دغه اقدام پر وړاندې د تاجکستان د خلکو د راولاړې له امله تاجکستاني چارواکي تر اوسه د دغه قانون پر تصويب نه دي بريالي شوي.

په تاجکستان کې د رحمان د خوښې خلاف، اسلامي نومونه ټاکل ورځ تر بلې مخ په زياتېدو دي. وينو چې په تاجکستان کې د رحمان د سيکولر نظام د ورځ په ورځ زياتېدونکو ظلمونو او فشارونو سربېره، په دغه هېواد کې اسلامي ويښتيا او اسلام ته رجوع د خلکو د ژوند په ټولو برخو کې ښکاري. الله سبحانه و تعالی څومره ښه فرمايي:

**(يُرِيدُونَ أَن يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ)**

[توبه: ۳۲]

***ژباړه:*** *دا خلک غواړي چې د الله رڼا په خپلو پوکيو مړه کړي. خو الله سبحانه وتعالی به خپل نور بشپړ کړي، که کافرانو ته دا هر څومره ناکاره وبرېښي هم.*

**ليکوال: محمد منصور**
**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**